د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چـــارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعات آمریت

اتمه ګڼه (غبرګولي) ۱۴۰۳ : شماره هشتم (جوزا) ۱۴۰۳ — لومړی مخ - صفحه اول



# هفته نامه راستنیدنه عودت

دغه څوکۍ یو لوی مسؤولیت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې یو خدمتګار دی.

## اداره سره میاشت کشور قطر برای برگشت کننده گان خانه اعمار می‌نماید



الحاج خلیل الرحمن حقانی سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با دوکتور محمد صلاح ابراهیم رئیس اداره انکشافی و مساعدتی هلال احمر کشور قطر و هیأت همراه وی دیدار کرد.
دراین دیدار روی موارد نیازمندی های برگشت کننده گان و مساعدت های بشری برای آسیب دیده گان ناشی از سیلاب‌های اخیر در کشور بحث شد.
آقای ابراهیم تعهد نمود که بعد از مشوره صندوق خیریه کشور قطر در اعمار تعداد خانه برای برگشت کننده گان در شهرک های مهاجرین معلومات را شریک و کار عملی آن را آغاز خواهند نمود.

### د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د یو شمیر ولایتونو د مهاجرینو له استازو سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني د دغه وزارت د غونډو په تالار کې د هېواد د یو شمېر ولایتونو د مهاجرینو له استازو سره ولیدل.
د مهاجرینو استازو خپلې ستونزې له سرپرست وزیر سره شریکې کړې او په بېلابېلو برخو کې یې د وزارت د لا زیاتو همکاریو غوښتنه څرګنده کړه.
دغه راز هغوی د خلکو غوښتنو ته د ځواب ویلو او له ځنډ پرته د لیدنې له امله د ښاغلي حقاني ستاینه وکړه.
د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست هغوی ته ښه راغلاست ووایه او ډاډ یې ورکړ، چې د دوی ستونزې به له اړوندو ادارو سره شریکې کړل شي.



### نشستی مشترک وزارت امورمهاجرین با کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامورپناهنده گان برگزارشد

نشستی مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با نماینده های کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهنده گان بر ریاست معین مسلکی وزارت برگزارشد.
در این نشست که آقای صوبیر محمد ابراهیم معاون عملیاتی، خانم والیری سوبو دووا معاون بخش حقوقی، آقای جیلواس نکالا موسو مشاور حالات اضطراری، خانم سیلین شمیت مشاور ارشد تفاهمنامه ها وآقای کریستوف پورتمن مشاور ارشد پالیسی کمیشنری سازمان ملل متحد حضور داشتند در مورد هماهنگ سازی ارقام بیجاشده گان داخلی و فعالیت های سال روان میلادی آن کمیشنری بحث شد.
مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت از کارکرد کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهنده گان قدردانی نموده و از همکاری اش اطمینان داده افزود: همه کار ها باید طور مشترک باشد موضوع مهاجرین اهداف اصلی وزارت و کمیشنری میباشد لازم است تا همکاری های مشترک به انجام رسد.
نماینده گان کمیشنری تاکید بر یکسان سازی آمار و ارقام بیجاشده گان داخلی نموده افرودند: لازم است تا یک دیتابیس مشترک میان وزارت، کمیشنری ملل متحد در امور پناهنده گان و سازمان بین المللی مهاجرت جهت تقویت و رسیدگی به اسرع وقت در حل مشکلات ترتیب گردد.



### هیات اعزامی وزارت امورمهاجرین به ولایت بغلان سفر نمود

مولوی شکر الله شاکر رییس عودت وادغام مجدد وزارت امور مهاجرین و رییس هیات توظیف شده بخاطر بازدید از ساحات متضرر ناشی از سیلاب ولایت بغلان به آن ولایت سفر نمود.
هیات متذکره بعد از دیدار با محمد ابراهیم عمری ریس مهاجرین آن ولایت به ساحه لرخاب ولسوالی دوشی رفته با باشنده گان آن محل دیدار، برای شهدا اتحاف دعا نموده و پیام تسلیت و همدردی مقام رهبری وزارت را به آنان به خوانش گرفت.
گفتنی است که از اثر سیلاب های اخیر در ولایت بغلان ده ها جریب زمین زراعتی، دوکان ها و خانه تخریب و تلفات جانی نیز بر جا گذاشته است.





اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

د څه باندې یو ملیون امریکایي ډالرو په ارزښت اته هوکړه لیکونه لاسلیک شول

## د څه باندې یو ملیون امریکایي ډالرو په ارزښت اته هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د مهاجرینو چارو وزارت او د ګلوبل ټولنې ودې او علمي څېړنې، د ټولنیزې پراختیا نوې لار، د افغانستان لپاره د تلپاتې موخو موسسه، د افغانستان د ودې او بیارغونې همغږۍ، د افغاني ټولنې روغتیا او بیارغونې، د جاپان خیریه مرستو نړیوال معاونیت پلاوی او د افغانانو لپاره د ښوونیزو، بشري او روغتیایي پرمختګونو موسسو ترمنځ د یو ملیون او ۷۹ زره او ۱۱۱ امریکایي ډالرو په ارزښت اته هوکړه لیکونه لاسلیلک شول

د دې هوکړه لیکونو پر بنسټ، د افغاني ټولنې د روغتیا او بیارغونې موسسه به په کندهار، هلمند، زابل، ارزګان او نیمروز ولایتونو کې د سرپنا جوړولو، د سرپناوو په سیمو کې د ماینونو پاکولو، د نغدي مرستو وېش او د ۷٦۰ کورنیو لپاره د ظرفیت لوړونې د پروګرام په برابرولو کې د ۴سوه ۳۹ زره او ۷۲۵ ډالره لګوي.

د جاپان د خیریه مرستو موسسه په ننګرهار ولایت کې ٦۰۰ کورنیو ته د دریو میاشتو لپاره د کوپون د وېش په برخه کې ۳ سوه ۱۵ زره او ۸۵۴ ډالره مرسته کوي، د نړیوال معاونیت پلاوي موسسه د پوهنې، اړتیاوو ارزونې، د لومړنیو ودانیزو توکو او د روغتیایي کڅوړو د وېش او په بلخ ولایت کې د ۲ زره او ۷۸۹ تنو لپاره د ټولګیو په جوړولو کې په برخو کې یو سل او ۱۱۵ زره او ۲۳٦ ډالره.

د ټولنیزې پراختیا نوې لار موسسه په بغلان او کندز ولایتونو کې د ۱۲۰۰ کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو د وېش لپاره ۸٦ زره ۳۳۸ ډالره ځانګړي کړي دي. د ګلوبل ټولنې د علمي څېړنو او ودې موسسه په کابل، بغلان او کندز ولایتونو کې د ۴٦۰ کورنیو ته د خوراکي توکو د مرستو په وېش لپاره ۷۸ زره او ٦۷۸ ډالره لګوي.



په همدې ډول د افغانستان د پراختیا او بیارغونې د همغږۍ موسسه په بادغیس ولایت کې د ۵ زره کورنیو لپاره د خوراکي توکو د وېش په برخه کې ۲۳ زره او ۲۸۰ ډالر او د افغانستان د تلپاتې موخو او د افغانانو لپاره د ښوونیزو، بشري او روغتیایي پراختیایي پرمختګونو موسسې هلمند ولایت کې ۱٦۰ کورنیو ته د خوراکي توکو د وېش په برخه کې ۲۳زره او ۲۸۰ ډالره لګوي.

دغه هوکړه لیکونه د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د پورته بنسټونو د استازو له خوا لاسلیک شول.

## تر پنځه زرو زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

پنځه زر او ۱٦۰ تنه افغان مهاجرین د تورخم او سپین بولدک له فرضي کرښو څخه خپل هېواد ته راستانه شول.

د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۴۹۴کورنۍ چې ۲٦۹۰ تنه کېږي، په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.

او د کندهار د سپین بولدک سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۴۴۵ کورنۍ چې ۲۰۳٦ تنه کېږي، په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ ، د مهاجرت او خوړو نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې او له ټولو کورنیو سره د اسلامي امارت له کړنلارې سره سم د لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه.

## ۸۰ تن از افغانهای محبوس در پاکستان، از حبس ازاد شدند

۸۰ نفر از افغانهای محبوس از محابس شهر کراچی کشور پاکستان، از قید آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار افراد یادشده به دلیل نداشتن اسناد قانونی مدت ۲۱ الی ۷۱ روز را در زندان شهر کراچی دربند بودند که پس از رهایی از طریق خط فرضی تورخم به وطن عودت و پس از ثبت درآن آمریت غرض کمک به سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.



## تر۷ زرو زیات مهاجرین له ایران څخه پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

په ایران کې مېشت ۷ زره او ۸۳۱ تنه افغان مهاجرین د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمر د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۹۷۴ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

دغه راز ۴۳ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول، ۱۵۹ کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۴۳۴ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمېټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه ووېشل شول او ۴۸۳ تنه نور له روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شول.

## په ۱۱ ولایتونو کې له یو زر او ٦۲۹ کورنیو سره مرسته وشوه

د تېرې یوې اونۍ، د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو له لوري په کندهار، ننګرهار، هرات، غور، سرپل، هلمند، تخار، خوست، بغلان، غزني او میدان وردګو ولایتونو کې یو زر او ٦۲۹ کورنیو سره مرسته وشوه.

په دغو کورنیو کې بېځایه شوې، راستنې شوې او همدا راز یو شمېر اړمنې کورنۍ شاملې وې، چې د ولایتونو د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ادارو له خوا د یو شمېر نړیوالو مرستندویو موسسو په همکارۍ د نغدو پیسو، خوراکي او روغتیایي توکو، جامو، کمپلو او د لمریزې برېښنا د وسایلو مرسته ورسره وشوه.

